**بسم الله الرحمن الرحیم**

**ژوند که مرګ؛ الجزایر ۱۳۰۰۰ کډوال د صحارا په دښته کې له سرپرست پرته پرېښي**




**خبر:**

الجزایر له تېرو څوارلسو میاشتو راهیسې د ماشومانو او امیندوارو مېرمنو په ګډون تر دیارلس زرو زیات کډوال د صحارا په دښته کې له سرپرست پرته پرېښي. وږي او تږي یې شړلي او کله کله خو یې لا د ټوپک په زور تر سوځونکي لمر لاندې پلي تګ ته اړ کړي. له دې دښتنې څخه د ځینو کسانو د ژوندي وتلو تمه هیڅکله هم نه شي کېدای.

د شړل شویو کډوالو او پناه غوښتونکو ډلې په سلګونو دپاسه ښکاري او له لرې دا ډلې د یوې نکتې په څېر برېښي، په داسې حال کې چې د هوا درجه په دې دښته کې د سانتي ګراډ ۴۸ درجو ته رسېږي.

د نایجریا په کډوالو کې نېکمرغه کسان ۱۵ کیلومتره په داسې ځمکه تېریږي، چې څوک ژوند نه پکې کوي او دوی هڅه کوي ګاونډي کلي اصامکا ته ځانونه ورسوي.

نور یې د ورځو ورځو لپاره په دې تمه پلي تګ ته دوام ورکوي، چې د ملګرو ملتونو ژغورونکې ډله یې ومومي. (سرچینه: الجزیره.کام)

**تبصره:**

د الجزایر دولت داسې ناوړه چلند د دغه هیواد د ښکېلاکي باداري فرانسې له وحشت سره د پرتلې وړ دی او د کډوالو په نړیوال کرکېچ کې دې هیواد ته په بشپړه توګه د ملامتیا ګوته نیول کېدای شي.

دا د یو هیواد د ملي حاکمیت په کچه یو ارزښتناکه ګام دی، چې د بې ګناه او بې وزلو انسانانو شړلو په موخه یې اخلي. شړل شوي کسان چې لا له وړاندې د هر راز ظلم او تېرې له خطر سره مخ وو اوس نور هم له بېلابېلو خطرونو سره مخ کېدونکي دي، لکه: د جنسي ګټې اخیستنې په موخه انساني قاچاق او د بدن د اندامونو پرېکول یې یو له هغو بېلګو څخه دي، چې هیڅ د زغم وړ نه دي. دا هر څه د لیبرال نظام او دیموکراتیکو بنسټونو د ناکامیو بېلګې دي، لکه: ملګري ملتونه، چې یوه زره هم د محاسبې صلاحیت نه لري، ترڅو بشري قوانین پلي کړي. دوی د دوه مخی له مخې ځان اتل ښیي او په غیر اخلاقي بڼه خدمت ته دوام ورکوي.

الجزایر د مزدورو رژیمونو یوه ښه بېلګه ده چې ان نه شي کولای انساني ارزښتونو ته په درنه سترګه وګوري، اسلامي ارزښتونه خو لا لیرې خبره ده. دا ډول بې رحمه کړنلاره یې ځکه غوره کړه، چې د خپلو لوېدیځ پلوو لګښت ورکوونکو بادارانو امرونه ومنې او هغوی ته وفاداره پاتې شي. دا ډول کړنلاره په هغې خاوره کې پلې کېږي، چې یو وخت د فقهاوو او د اسلام ریښتني مرکزونو پکې وو.

د یو مسلمان په توګه موږ ته باید پر داسې کړنو غوسه راشي، لکه څرنګه چې موږ د سعودي له لورې په یمن کې د کېدونکي وحشت پر وړاندې ولاړ یو او د اردغان د تېر ایستونکو او مکارو پالیسو پر وړاندې، چې د ګډوالو په اړه یې د اروپایي قوانینو په رڼا کې پلې کوي په غوسه یو.

تر هغې چې د مسلمانانو په توګه موږ د خپلو ملتونو د رهبرانو پر وړاندې یوموټې نه شو، د هر ډول ظلم او بې عدالتۍ پر وړاندې ونه دریږو، د دې ظلمونو او بې عدالتیو سرچینې ونه پېژنو، نو دا به تل زموږ د کمزورۍ او بې اتفاقۍ لامل وي او پایله به یې د شرعي احکامو د پلي کېدلو پر وړاندې خنډ وي. همدارز حالت به مو مخ پر ځوږ روان وي.

الله سبحانه تعالی په خپل پاک کلام قرآن کریم کې فرمایي:

**﴿لَهُ مُعَقِّبَاتٌ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِ يَحْفَظُونَهُ مِنْ أَمْرِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ لاَ يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّى يُغَيِّرُوا مَا بِأَنْفُسِهِمْ وَإِذَا أَرَادَ اللَّهُ بِقَوْمٍ سُوءًا فَلاَ مَرَدَّ لَهُ وَمَا لَهُمْ مِنْ دُونِهِ مِنْ وَالٍ﴾**

[الرعد:۱۱]

*ژباړه: د هر چا وړاندې او وروسته تاکل شوي څارونکي دي، چې د الله سبحانه تعالی په حکم سره د هغه څارنه او ساتنه کوي. حقیقت دا دی چې الله سبحانه تعالی د هیڅ قوم حالت نه بدلوي، ترڅو هغوی خپل اوصاف نه وي بدل کړي او کله چې الله سبحانه تعالی کوم قوم ته د سزا ورکولو فېصله وکړي، نو د هغه مخنیوی هېڅوک نه شي کولی او نه هم څوك د الله سبحانه تعالی پر وړاندې د داسې قوم ملاتړ او ساتندوی ګرځېدلای شي.*

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**لیکنه: ملیحه حسن**

**ژباړن: عبدالله لطفي**